# وزه، سپی او غوا


Fabian Wakholi
Marleen Visser, Ingrid Schechter
Darakhte Danesh

2
پښتو ps

وزه، سپی او غوا ډېر ښه ملګري وو. یوه ورځ هغوی په یوه ټکسي کې په سفر تلل.

کله چې د هغوی سفر پای ته ورسیده، موټرچلوونکی له هغوی څخه کرایه وغوښتله. غوا خپله کرایه ورکړه.

سپي غټې روپۍ (لوټ) ورکړې ځکه چې له هغه سره ټاکل شوې اندازه روپۍ نه وې.

موټر چلوونکي غوښتل چې سپي ته پاتې شوې روډۍ بېرته ورکړي خو په همدې وخت کې وزې پرته له کرایه ورکولو منډې کړې او لاړه.

موټر چلوونکي د وزې له دغه عمل څخه ډېر خواشينی شو او پرته له دې چې د سپي پاتې شوې روپۍ ورکړي وتښتېده.

نو د همدې امله نن سپي د موټرو پسې منډې وهي چې دننه وګوري او هغه موټرچلوونکی چې روپۍ یې ورسره پاتې دي ومومي.

وزه د موټر دغږ په اورېدو سره لرې تښتي او دا ويره لري
چې د کرايې نه ورکولو له امله به ونيول شي.

او غوا د موټر په لیدو سره هېڅ ستونزه نه لري او سړک
څخه په تېرېدلو کې هم بېړه نه کوي، ځکه چې هغې خپله
کرایه بشپړه ورکړې وه.

# Global Storybooks

globalstorybooks.net

## وزه، سپی او غوا

Fabian Wakholi
Marleen Visser, Ingrid Schechter
Darakhte Danesh

CC BY